# ارګ پاڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

دوهمه ګڼه











## د ارګ مهمې پېښې

# د ۱.۱.۱ د کابینې غونډه ترسره شوه



د افغانستان اسلامي امارت د کابینې لسمه غونډه د رئیس الوزراء ملا محمد حسن آخند په مشرۍ دائره شوه.
په غونډه کې د هیواد په اقتصادي او اجتماعي مسائلو بحث او د نظر تبادله وشوه. په اقتصادي برخه کې د کابل ښار د نادر پښتون جادې د خیرخواه مارکیټ د بیاودانولو طرحه او موډل تصویب او د چارو اداري د لوی ریاست د پانګونې د اسانتیا واحد ته دنده وسپارل شوه چې د قراداد د امضاء کیدو او د کار د افتتاح په شمول پاتې پړاوونه د اړونده ارګانونو په همکارۍ بشپړ کړي.
دغه راز اړونده وزارتونو ته دنده وسپارل شوه چې د نوي کابل جوړیدو پاتې برخه پ۲...

## جریان کار پروژه مدیریت آبریزه ها زیر عنوان کار در مقابل گندم

برنامه کار در مقابل گندم به ابتکار رهبری امارت اسلامی افغانستان به منظور فقر زدایی و ایجاد شغل برای ۴۰ هزار کارگر در نواحی شهر و ولسوالی های چهارده گانه ولایت کابل آغاز گردید. کار عملی این پروژه جلوگیری از وقوع احتمالی بحران غذا، کاهش فقر و ایجاد کار در برابر گندم در نواحی شهر ویکتعداد ولسوالی های ولایت کابل به شدت جریان دارد که به هزاران نفرکارگر زمینه کار مساعد گردیده است.
انجینر سنگراحمدی مسئول پروژه ابریزه ها ولسوالی بگرامی می گوید که درحال حاضر ۳۴۰۰ کارگردر ساحه گوسفند دره این ولسوالی و ۳۵۰ نفر کارگر در ساحه کمری همه روزه عملا از ساعت ۷ صبح الی ۱ بعد از ظهر مصروف کار بوده که از سوی انجینران تخنیکی وباتجربه ساحات کار مشخص می گردد و توسط کارگران کندن کاری آن به پیش برده می شود. نام برده می افزاید در این پروژه انعده کارگران که عمرآن از ۱۸ سالگی بالا باشد از ساحه و ولسوالی مربوطه به کاراستخدام می شود.
این برنامه به همکاری وزارت زراعت وآبیاری، اداره عملیاتي، وزارت انرژي وآب وشاروالی کابل از سوی شرکت انکشاف ملی تطبیق میگردد که درنواحی شهر و چهارده ولسوالی ولایت کابل حدود دو ماه تطبیق خواهد گردید که به فی نفر در بدل کار روز ۱۰ کیلو گندم توزیع خواهد شد.



پالیسی ما این است که با تمام همسایه ها و کشورهای منطقه روابط نیک داشته باشیم و به هیچ کس اجازه نمی دهیم از خاک افغانستان علیه امنیت آن ها استفاده نماید.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی
معاون ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان

## د اسلامي امارت د ریاسة الوزرا مرستیالانو د المان او هالنډ هیوادونو له استازو سره وکتل


د افغانستان اسلامي امارت د ریاسة الوزرا مرستیالانو محترم ملا عبدالغني برادر او محترم مولوي صاحب عبدالسلام حنفي د افغانستان لپاره د المان او هالنډ هیوادونو له ځانګړو استازو پاتې برخه پ۲...

## د لوړو زده کړو له سرپرست وزیر سره د المان ستراتیژیکې پراختیایي کمپنۍ د آسیایي څانګې مسئولانو وکتل

دغه ناسته چې د لوړو زده کړو وزارت په مقام کې تر سره شوه، د یادې کمپنۍ مسئولانه له لوړو زده کړو وزارت سره په مختلفو برخو کې د همکارۍ تیارې وښود. د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د آلمان له همکارۍ څخه مننه وکړه او ویې ویل چې دغه وزارت اوږدمهاله او لنډمهاله مرستو ته اړتیا لري، نوموړي زیاته کړه، چې د ځینو پوهنتونونو پاتې برخه پ۲...

## د اسلامي امارت د ریاسة الوزرا مرستیال د افغانستان لپاره د ایران ځانګړي استازي سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت د ریاسة الوزرا مرستیال ملا عبدالغني برادر د افغانستان لپاره د ایران اسلامي جمهوریت ځانګړي استازي حسن کاظمي قمي او مل پلاوي سره وکتل.
پاتې برخه پ۲...



اسلامي امارت د آلمان او نیدرلنډ هیوادونو د دې اقدام هرکلی او ستاینه کوي، چې د تعلیم او روغتیا په برخو کې د ټولو نارینه او ښځینه کارمندانو معاشونه ورکوي. اسلامي امارت به په شفاف ډول د معاشاتو په رسولو کې مرسته او همکاري کوي.

محترم ذبیح الله مجاهد
د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال او
د افغانستان اسلامي امارت ویاند

## کابینې غونډه:

**د سوداګرۍ او صنعت وزارت ته دنده وسپارل شوه، چې د اړونده ارګانونو په مرسته ملي سوداګرو او صنعت کارانو ته د اړتیا وړ ځمکو د ویش په اړه ګامونه واخلي.**

پاتې برخه پ۱...

## د لوړو زده کړو له سرپرست وزیر د المان...

د ساختماني پروژو تکمیلول، د کابل پوهنتون معیاري کول او د پوهنتونونو د انټرنیټي سیستمونو ځواکمنتیا زموږ له لومړیتوبونو او عاجلو اړتیاوو څخه دي.
د لوړو زده کړو وزارت سرپرست د خپلو خبرو په دوام کې وویل چې اوسمهال خصوصي پوهنتونونه د محصلانو پر مخ واز دي او د دولتي پوهنتونونو د بندېدو دلیل اقتصادي ستونزې دي.
وروسته په افغانستان کې د المان د ستراتیژیکې پراختیا کمپنۍ رییس حشمت الله مرادي وویل، چې د لوړو زده کړو وزارت پروگرامونه او اړتیاوې به وڅېړو او د پلي کولو او عملي گامونو اخیستلو په برخه کې به یې په راتلونکې ناسته کې خبرې وکړو. په دغه ناسته کې د المان ستراتیژیکې پراختیا کمپنۍ وکیل او سلاکار اولیفر له لوړو زده کړو وزارت سره د خپلو همکاریو ډاډ ورکړ.

**په افغانستان کې د پانگونې لپاره شرایط برابر شوي او د نړۍ له هېوادونو غواړو تر څو د کانونو، انرژۍ، روغتیا او نورو برخو کې پانگونه وکړي.**

محترم مولوي عبدالسلام حنفي
د ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء مرستیال

**متحده عربي اماراتو په پلازمېنه کابل کې خپل سفارت د خپل بیرغ په پورته کولو سره بېرته پرانېست. د نورو مثبتو گامونو په لور یو مثبت گام. متحده عرب امارات او افغانستان پخوانۍ ښې اړیکې لري، باید لا غښتلې او پیاوړې شي.**

محترم مولوي احمد الله وثیق
د افغانستان اسلامي امارت مرستیال ویاند

**خبریالان باید د خبر جوړولو پر مهال د ژورنالیزم اصول په نظر کې ونیسي ترڅو موثق او د لیدونکو او اورېدونکو له نظره د اعتبار وړ وگرځي چې، په داسې کولو سره به یې هم خپله بې طرفي ساتلې وي او هم به یې د خلکو باور خپل کړی وي.**

محترم قاري محمد یوسف احمدي
د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنیو مرکز سرپرست

### کابینې غونډه:

**اړونده وزارتونو ته دنده وسپارل شوه چې د نوي کابل جوړېدو نقشه د افغاني متخصصینو سره په همغږۍ و ارزوي او د اسلامي ټولنې اړتیاوو او افغاني کلتور په پام کې نیولو سره دې د ارزونې پایلې کابینې غونډې ته وړاندې کړي.**

پاتې برخه پ۱...

## د ا.ا.ا. د کابینې غونډه...

نقشه د افغاني متخصصینو او کار پوهانو سره په همغږۍ و ارزوي او د اسلامي ټولنې اړتیاوو او افغاني کلتور په پام کې نیولو سره دې د ارزونې پایلې کابینې غونډې ته وړاندې کړي.
د سوداگرۍ او صنعت وزارت ته دنده وسپارل شوه، چې د اړونده ارگانونو په مرسته ملي سوداگرو او صنعت کارانو ته د اړتیا وړ ځمکو د ویش په اړه گامونه واخلي.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې ته دنده وسپارل شوه چې د کابل د امنیه قومندانۍ او نورو اړونده ارگانونو په مرسته د کابل ښار سوالگر تثبیت او د هغوی د اړتیاوو (ځای، خوراک، پوښاک، دارو درمل) برابرولو او پاللو په موخه طرحه چمتو او د ریاست الوزراء مقام ته دې وړاندې کړي.
د کرنې، اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت مرستیال مولوي شمس الدین شریعتي په مشرۍ د مالیې، سوداگرۍ او صنعت او کورنیو چارو وزارتونو او د استخباراتو لوی ریاست استازو په گډون پلاوي ته دنده وسپارل شوه، چې د سون لرگیو بدیل موندلو په اړه هر اړخیزه څېړنه ترسره او پایله دې د کابینې راتلونکو غونډو ته وړاندې کړي.

په غونډه کې د عدلیې وزارت مؤظف شو چې مدافع وکیلانو ته د خپلې کړنلارې له مخې د فعالیت جواز ورکړي. دغه راز د نورو مسائلو په اړه هم گټورې پرېکړې ترسره او په تعمیل یې ټینگار وشو.

## د روسیې هیواد لخوا د افغانستان له خلکو سره د بشري مرستو لومړۍ جوپه را ورسیده

دغه مرستې، چې په ۳ الوتکو کې را انتقال شوې او ۳۶ ټنه وزن یې درلود، اوړه، غوړي او کمپلې په کې شاملې دي او د اسلامي امارت د ویاند محترم ذبیح الله مجاهد، د ضد حوادث وزارت د معین او د مرستو د تسلیمۍ د کمیسیون د استازو په حضور کې تسلیم شوه.
د دغې مرستې د تسلیمیدو په مهال د روسیې هیواد او د روسیې له خلکو څخه د افغانستان د خلکو او د اسلامي امارت په نمایندگۍ مننه وشوه او له نورو هیوادونو څخه هم غوښتنه وشوه چې ورته گامونه واخلي او د افغانستان له خلکو سره مرستو ته دوام ورکړي.
باید یادونه وکړو، چې د روسیې لخوا ټولې ۱۰۸ ټنه بشري مرستې په ۳ مرحلو کې د افغانستان له خلکو سره تر سره کیږي، چې لومړۍ جوپه یې نن او پاتې ۲ نورې جوپې به یې په راتلونکې کې ترسره شي.

پاتې برخه پ۱...

## د ریاسة الوزرا مرستیالانو د المان او هالنډ...

او مل پلاویو سره په ارگ کې وکتل.
په دغه کتنه کې دواړو لوریو د افغانستان او یادو هیوادونو ترمنځ د اړیکو، بشري مرستو او په افغانستان کې د اقتصادي، اجتماعي او بشري وضعیت د ښه والي په اړه بحث او خبرې وکړې.
په پیل کې محترم ملا عبدالغني برادر یاد پلاوي ته د ښه راغلاست پر مهال د روان وضعیت او اسلامي امارت له لورې د لازمو اسانتیاو او شرایطو برابرولو په اړه معلومات ورکړل ویې ویل، د افغانستان کنگل شوې شتمني د افغانانو ده او بیرته دې ورته را خوشې شي.
موږ غواړو بین المللي ټولنه د افغانستان وضعیت ته پام وکړي، که په افغانستان کې بې وزلي زیاته شي، پر ټولو به منفي اغېز ولري.
وروسته د افغانستان لپاره د المان ځانگړي استازي د دیپلوماټیکو ارگانونو د امنیت د تامین مننه وکړه او زیاته یې کړه، موږ د افغانانو تر څنگ یو او په دې وروستیو کې د المان لومړي وزیر له افغانستان سره د دغه هیواد د مخکېنیو مرستو سربېره، ۶۰۰ میلیون یورو نوره بشري مرسته هم اعلان کړه.
په دغه کتنه کې محترم حنفي صاحب وویل، افغانستان او المان تاریخي مناسبات لري او موږ د دغو روابطو پراختیا غواړو.
هغه زیاته کړه، موږ هیچاته د دې اجازه نه ورکوو چې د افغانستان له خاورې څخه سیمې او نړۍ ته گواښ پېښ کړي، د نشه یي توکو د کر، قاچاق او پروسس د مخنیوي هڅې کوو او کوښښ کوو کروندگرو ته د بین المللي ټولنې په همکارۍ د بدیل اقتصاد زمینه برابره کړو.
محترم مولوي حنفي دېته په اشارې چې په افغانستان کې د پانگونې لپاره امنیت او بشپړ لازم شرایط برابر شوي، د المان او هالنډ او د نړۍ له نورو هیوادونو وغوښتل چې افغانستان کې په بېلابېلو برخو په ځانگړي ډول د کانونو، انرژۍ او د روغتیا په برخو کې پانگونه وکړي.

**المان له افغانستان سره ۶۰۰ میلیون یورو مرسته کوي.**

**د ا.ا.ا. له حاکمیت وروسته هره ورځ شاوخوا ۳۰۰ میلیونه افغانۍ عواید په شفاف ډول راټولیږي.**

پاتې برخه پ۱...

## ریاسة الوزراء مرستیال د ایران ځانگړي...

په دغه کتنه چې په ارگ کې وشوه یو شمېر سرپرست وزیرانو او اړوندو مسئولینو هم حضور درلود، په پیل کې ملا عبدالغني برادر یاد پلاوي ته د ښه راغلاست پر مهال په بېلابېلو برخو کې له افغانستان سره د ایران د مرستو او همکاریو مننه وکړه او د دواړو هیوادونو ترمنځ یې د مناسباتو پر پراختیا ټینگار وکړ.
د افغانستان لپاره د ایران ځانگړي استازي حسن کاظمي قمي وویل، افغانستان نن د خپلو اصلي بچیانو په واک کې دی، او اشغال پایته رسېدلی.
هغه زیاته کړه، افغانستان او ایران دوه مسلمان هیوادونه دي چې گډې گټې، دیني او فرهنگي مشترکات لري او باید په بېلابېلو برخو کې خپلې همکارۍ لاپیاوړې کړو. رامنځته شوي شرایط داسې یو فرصت دی چې د اسلامي نړۍ، سیمې، افغانانو او د دواړو هیوادونو گټې پکې نغښتې دي.
د افغانستان اسلامي امارت د ریاسة الوزرا مرستیال د حسن کاظمي قمي خبرو ته په اشارې وویل، اشغال پایته رسېدلی، په ټولو اما په ځانگړي ډول په اقتصادي او سیاسي برخو کې د هغه له منفي پایلو سره جدي مقابله کوو.
د دغې کتنې په پای کې په سیاسي، امنیتي، پانگونې، سوداگرۍ او گمرک، کډوالو، د اوبو، برېښنا او انرژۍ حوزې او فرهنگي، علمي او روزنې برخو کې د گډو کمېټو پر ایجادولو هم هوکړه وشوه.
گډو کمېټو ته دنده وسپارل شوه چې ژر دې خپلمنځي غونډې جوړې او بېړنیو شرایطو ته د رسېدو په برخه کې دې پر اوږدمهالو همکاریو او ملي پروژو بحثونه وکړي او لازمو هوکړو ته دې ورسېږي.

**اوس مهال په هېواد کې یونیم میلیون وگړي د غالیو په صنعت کې بوخت دي. همدا ډول په ټول هېواد کې د صنعت کارانو لپاره د ځمکو د ویش لړۍ هم روانه ده.**

محترم بلال کریمي
د افغانستان اسلامي امارت مرستیال ویاند

### کابینې غونډه:

**د نادر پښتون جادې د خیرخواه مارکیټ د بیاودانولو طرحه او موډل تصویب او د چارو ادارې ته دنده وسپارل شوه چې، له اړونده ارگانونو سره په گډه پر عملي چارو کار پیل کړي.**

**تېره میاشت د مجاهدینو په صفوف کې ۶۰۰ تنه غیر مسئول کسان تشخیص او نیول شوي دي.**

محترم لطیف الله حکیمي د ا.ا.ا. د صفوفو تصفیې د کمیسیون رئیس

## نږدې ۲ زره اړمنو کورنیو سره نغدي مرستې وشوې





په لغمان، فراه، نورستان، هلمند، پکتیا، جوزجان او یو شمېر نورو ولایتونو کې د امارت اسلامي او یو شمېر مرستندویه موسسو له لوري هرې کورنۍ سره د ۲۶۵ ډالرو نغدي مرسته وشوه.


## برای ۶۲۵۰ دهقان گندم اصلاح شده بذری توزیع گردید





امارت اسلامی در هماهنگی با موسسات همکار در این اواخر برای ۶۲۵۰ دهقان در مربوطات ولایات تخار، سمنگان، میدان وردک و زابل تخم گندم اصلاح شده بذری و کود کیمیاوی توزیع نمود.

## برای مکاتب ولسوالی های هفتگانه ولایت بادغیس مواد درسی توزیع گردید




این مواد شامل خیمه ۲۴متره، فرش، کیت های درسی، کیت های بهداشتی، تخته سیاه و صندوق های آموزشی بوده که به همکاری دفتر یونیسف توزیع گردید.

## ننګرهار ولایت په مربوطاتو کې کرکیله مخ په ښه کېدو ده



ننګرهار ولایت د ۱۴ ولسوالیو په مربوطاتو کې په ۱۳۰۰ جریبه ځمکه باندې د بڼو جوړولو چارې پیل شوې او په پام کې ده چې ۱۰۴ زره مثمر نیالګي کینول شي. همدارنګه، په یو بل اقدام کې د یاد ولایت د کانال اړوند هدې فارم په مربوطاتو کې د ۳۵ میلیونه افغانیو په مالي لګښت د الوېرا بوټي د کښت چارې روانې دي.

## ۱۵۰ تن از بخش های مختلف صحی در ولایت تخار فارغ شدند



۱۵۰ تن شامل ۵۰ زن و ۱۰۰ مرد از بخش های مختلف صحی چنانچه، قابلگی، نرسنگ و فارمسی از انستیتوت صحی ولایت تخار سند فراغت شان را بدست آوردند. با این کار سطح عرضه خدمات صحی در آن ولایت بهبود خواهد یافت.

## په پکتیا ولایت کې صنعتي پارک پرانیستل شو



د امارت اسلامي له حاکمیت وروسته په پکتیا ولایت کې صنعتي پارک پرانیستل شو. د دې صنعتي پارک په پرانیستې سره به پانګونه زیاته، فابریکې به فعالیت پیل او هېوادوال ته به کاري او اقتصادي فرصتونه برابر شي.

## زابل کې د ۷۵ ښوونځیو لپاره د ژورو څاګانو وهلو پروګرام پیل او یو جامع جومات ورغول شو




دا پروژه د یونیسف موسسې په مالي ملاتړ او د شوو موسسې له لوري د زابل ولایت د ۷۵ ښوونځیو لپاره د څښاک د پاکو اوبو د برابرولو په موخه پیل شو. همدارنګه د یاد ولایت په سیوري ولسوالۍ کې یو جامع جومات چې د جګړو له امله تخریب شوی وو په ښه توګه ورغول شو.

## په غزني ولایت کې یو سړک ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



دا سړک د شپږ کیلومترو په اوږدوالي په اب بند ولسوالۍ کې له سپین بند څخه تر خلیج بازاره پورې غزېدلی چې په رغولو یې د سیمو خلکو د تګ او راتګ لپاره اسانتیاوې رامنځته کړې دي.

## برای تولید اسپان سمارق یک مرکز مجهز در جوزجان ساخته شد



به گفته مسئولان این مرکز که با ماشین های پیشرفته مجهز بوده و توانایی تولید و تکثیر اسپان سمارق مورد نیاز ولایات جوزجان، سرپل و فاریاب را دارا می باشد.

## هلمند کې د لومړي ځل لپاره دوه ښوونځۍ پرانیستل شول



د هلمند ولایت په باغران ولسوالۍ کې د لومړي ځل لپاره دوه ښوونځي پرانیستل شول. په دې کار سره به زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابره شي.

## په یو شمېر ولایتونو کې ۲۶۳۶ کورنیو سره د خوراکي توکو مرستې وشوې



په سمنګان، غور، پکتیا، سرپل، کندز، فاریاب او یو شمېر نورو ولایتونو کې ۲۶۳۶ اړمنو او بې ځایه شویو کډوالو سره د امارت اسلامي او مرستندویه موسسو له لوري مرستې وشوې. په یادو مرستو کې خوراکي او ژمني توکي شامل دي.

## په یو شمېر ولایتونو کې د ګوزڼ ناروغۍ د مخنیوي کمپاین پیل شو




په کونړ، بادغیس، کندهار، ارزګان او یو شمېر نورو ولایتونو کې د ګوزڼ ناروغۍ د مخنیوي لپاره کمپاین پیل شو او په پام کې ده چې په نږدې راتلونکې کې شاوخوا یو لک ماشومان چې عمر یې له پنځ کلو کم وي واکسین شي.

# د افغانستان اسلامي امارت له حاکمیت وروسته

امارت اسلامی افغانستان متعهد است از طریق تطبیق برنامه کار در مقابل گندم برای **۴۰ هزار کارگر** در مربوطات ولایت کابل فرصت های شغلی ایجاد کند.



د ۱.۱.۱. له حاکمیته وروسته په تېرو درېو میاشتو کې **۲۶.۹ میلیارده افغانۍ** عواید په شفاف ډول راټول شوي دي.




در این اواخر به بیش از **۶ هزار دهقان** تخم اصلاح شده بذری و برای حدود **۵ هزار فامیل نیازمند** کمک های نقدی و مواد خوراکی صورت گرفت.




په نږدې راتلونکي کې به تر پنځه کاله کم شاوخوا **سل زره ماشومانو** ته د پولیو واکسین تطبیق شي.




## د اونۍ انځور





مسجد عیدگاه میان باغ علیمردان و چمن حضوری در شهر کابل قرار دارد. مسجد عیدگاه در سال ۱۳۱۱ ه.ق بنا نهاده شد و کار ساختمان سازی آن در سال ۱۳۱۵ ه.ق پایان یافت. این مسجد یکی از قدیمی ترین مساجد در شهر کابل می باشد.